# چا چې زما د دې اودس په څېر اودس وکړ، بیا یې دوه رکعته لمونځ وکړ او له ځان سره یې پکې خبرې ونه کړې (یعنې له وسوسو یې ځان وژغوره) ټول مخکني ګناهونه به یې ورته وبخښل شي

له حمران - د عثمان بن عفان له ازاد شوي غلام - څخه روایت دی چې هغه عثمان ولیده چې د اودس لپاره یې اوبه راوغوښتې، نو له لوښي څخه یې په لاسونو اوبه راتوی کړې او درې ځلې یې ومینځل، بیا یې ښی لاس لوښي ته ښکته کړ، بیا یې خولې ته او پوزې ته اوبه واچولې او پوزه یې سونړ کړه، بیا یې درې ځلې مخ پرې مینځه، او لاسونه یې تر څنګلو پورې درې ځلې ووینځلې، بیا یې په سر مسحه وکړه، بیا یې دواړه پښې درې ځلې ومینځلې، بیا یې وویل: پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - مې ولیده چې زما د اودس په څېر اودس یې کاوه او وییل یې: « چا چې زما د دې اودس په څېر اودس وکړ، بیا یې دوه رکعته لمونځ وکړ او له ځان سره یې پکې خبرې ونه کړې (یعنې له وسوسو یې ځان وژغوره) ټول مخکني ګناهونه به یې ورته وبخښل شي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

عثمان رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس کولو طریقه په عملي بڼه وښودله، د زیات وضاحت لپاره یې اوبه راوغوښتې، نو درې ځلې یې په لاسونو راتوی کړې، بیا یې خپل ښی لاس په لوښي کې ښکته کړ، اوبه یې ترې راواخیستې، خولې ته یې واچولې او په خوله کې تاوې راتاوې کړې، بیا یې راوویستلې، بیا یې اوبه پوزې ته دننه کش کړې، بیا یې سونړ کړلې، بیا یې خپل مخ درې ځلې ووینځه، بیا یې د څنګلو په شمول لاسونه درې ځلې ووینځل، بیا یې خپل لوند لاس یو ځل په سر راښکود، بیا یې پښې له ښنګرو سره درې ځلې ووینځلې. بیا چې کله هغه رضي الله عنه له اودس څخه فارغ شو نو هغوی ته یې خبر ورکړ چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چې د دې اودس په څېر اودس یې وکړ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته زیری ورکړی دی چې چا د هغه د اودس په څېر اودس وکړ او دوه رکعته لمونځ یې وکړ، په داسې حال کې چې د خپل رب په وړاندې له عاجز او د زړه له حضور سره ودرید، نو الله تعالی به پدې بشپړ اودس او دې خالص لمونځ اجر وکړي، داسې چې ټول مخکني ګناهونه به یې وبخښي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3313